پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۷/۱۰/۱۴

# «د رنګونو جنګ»

## (د زلمي نصرت نوې شعري تجربې)




د پښتو شعر په بڼ کې يو بل نوی ګل وغوړيد، يوه بله شعري ټولګه اضافه شوه او د يوه شاعر نوې شعري تجربې راميدان ته شوې. دا نوې شعري ټولګه او نوې شعري تجربې، د شعر بڼ د نوي شاعر، ښاغلي زلمی نصرت په راټګ سره زرغونې شوې او د ده د نويو او تازه شعري غوټيو په ډول يې خپل افکار په نويو او زړو قالبونو کې، خپلو مينه والو ته وړاندې کړي دي.

د ښاغلي نصرت دا نوې ټولګه «د رنګونو جنګ» نوميږي چې تازه، د ده د لومړنيو شعري تجربو په ډول راميدان ته کيږي. «د رنګونو جنګ» نومې شعري ټولګه همدا سږ کال (۱۳۹۶) له چاپه راووته د پښتو ادب مينه والو او لوستونکو ته وړاندې شوه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ښاغلي نصرت په دې نوې شعري ټولګه کې له یو شمیر ازادو او مقفی شعرونو سره، دوې مقدمې هم راوړل شوې دي. لومړنۍ مقدمه د پرکاره شاعر ښاغلي عبدالغني هاشمي په قلم لیکل شوې ده چې د «زموږ د سیمې ستوری زلمی» سرلیک یې ورکړی دی. ښاغلی هاشمي د خپل کوچنیوالي او زلمیتوب د سترګو لیدلي حال په استناد، د زلمي نصرت په باب، د خپلې مقدمې په یوه برخه کې داسې لیکلي دي:
«... زلمی هغه مهال یوازې زموږ د کلي په کچه نه، بلکې د ټول ښار په کچه د پوهې، لیاقت، نیکو اخلاقو او لوړ استعداد له پلوه ځانګړی نوم او شهرت درلود. یوازې زموږ د کلي مکتبي ځوانان نه، بلکې د سیمې ډیری ځوانان به تل زلمي ته د درس لوستلو له پاره راتلل او زلمي به په ورین تندي په خپل کور، د کلي په جومات او دیرو ـ حجرو کې ور ته ورړیا سبقونه ویل.
کله چې زلمی په لوړه درجه له دولسم ټولګي فارغ شو او د کانکور ازموینې وروسته د کابل پولیتخنیک ته بریالی شو، په سیمه کې یوه ها ورګډه شوه، د هر چا پر ژبه به د زلمي نوم و او هر پلار او مور به خپلو اولادونو ته د پیغور او هڅونې په موخه، زلمی بېلګه کاوه...
هغه مهال ساختماني پوهنځي ته د یوه غریب کلیوال بریالي کیدل یوه معجزه وه، خو زلمی په هسکه غاړه دا ویاړ خپل کړ.
زلمی ډیر ژر په پوهنتون کې هم د یوه هوښیار، لایقه، مخکښ، با استعداده او لوړو ټولنیزو اخلاقو لرونکي محصل په توګه د خپل پوهنځي د محصلینو د کتار په لومړۍ لیکه کې ودرید او تر فراغت پورې همداسې هسکه غاړه په لومړۍ لیکه کې پاتې شو، تر هغې چې په لوړه درجه له پوهنځي څخه فارغ او هیواد ته یې د خدمت کلکه ملا وتړله.» (نصرت زلمی، د رنګونو جنګ، د شعرونو ټولګه، ۱۳۹۶ ام کال، ۴ ـ ۵ مخونه)
د پښتو ادب په اوسنی دوره کې موږ د پاملرنې وړ مثالونه لرو چې زموږ فرهنګیان د مسلک او زدکړو له پلوه جلا لار لري خو د هنر او فرهنګ په ډګر کې یې یا موسیقي او سندرو ویلو ته مخه کړې او یا د شعر هنر ته. ما په خپله یوه مقاله کې د مثال په توګه د ځینو همداسې ښاغلو نومونه چې زما خپل پیژندګلو هم وو، را اخیستي وو، په چې د زدکړو او مسلک لاره یې بیله وه، خو د شعر او موسیقي په نړۍ کې یې هم فعالیت کړی دی. په خپله یاده مقاله کې ما لیکلي وو:
«... د پښتو ادب په ډګر کې موږ داسې بیلګې ډیرې لرو چې د خپل مسلك ترڅنګه یې شاعري لیکوالي او نورهنري کارونه هم کړي دي. لکه:

انجینیرګل افضل ټکور (شاعر)

انجینیرنظیف الله تکـل (شاعر)

ډاکترحفیظالله خوږلـن (شاعر)

ډاکترپیروز(سنـدرغـــاړی)

انجنیر حاجي محمد نوزادي (شاعر او مترجم)
او...»

او اوس دا دی بل انجنیر هم د هنر او شعر په بڼ کې پښه کیښوده او د سیاسي طنزونو د لیکلو تر څنګ، شعر هم وایي چې لومړنۍ بیلګې یې «د رنګونو جنګ» نومیږي.
ښاغلی زلمی نصرت د مسلک او زدکړو په ډګر کې د ودانۍ جوړولو یو تکړه انجنیر دی، خو د شعر ویلو کمال هم خدای ور په برخه کړی دی او د شعر د هنر تر څنګه د سیاست په ډګر کې هم قلم چلوي، دی ډیر ځلې سیاست هم د هنر په ژبه په انتقادي ډول رانغاړي. دی کله، کله ښې سیاسي تبصرې لیکي او په لوړه هنري ژبه سیاسي طنزونه داسې لیکي چې د طنز د اصولو له مخې هم ژړا په کې وي او هم خندا. دا یې د سیاسي طنزونو یوه بیلګه ده:«

## «معجزه قرن»

## (طنز هفته)

در جهان ۱۹۶ کشور وجود دارد. در این میان افغانستان اولین کشوری معجزه ساز در جهان است، که:
ـ سیاستمدارانش توان حفظ جنگ را در داخل جغرافیای خود دارند، یعنی برای خود جنگ برای همسایگان صلح میخواهند،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ برای خود شیطان چراغک، برای همسایگان برق اتمي تمنا دارند،
ـ آب کوزه خود را به همسایگان میدهند و خود شان تشنه لبان خوش استند،
ـ برای آبادی همسایگان و ویرانی خود مبارزه می کنند،
ـ احزاب خود را به فرمایش دیگران میسازند،
ـ تفنگ بردار بیگانه گان سر شانه های خود استند.
ـ اکثریت روشنفکران معاش بگیر، در خدمت ۱۰۰۰ تن دزد و رهزن قرار دارند.
ـ ۱۰۰۰ دزد ۳۰ میلیون انسان را اداره می کند.
و...
و همه شان به اعمال خود افتخار هم میکنند.
آیا این معجزه قرن نیست؟»

«د رنګونو جنګ» په اصل کې یو سیاسي سر لیک دی چې د هغه په وسیله شاعر غواړي خپل ملت ته و وایي چې څنګه په دا وروستیو څلویښتو کلونو کې بیلابیلې ډلې، ګوندونه او تنظیمونه په ناروا او تپل شوي جنګ باندې اخته دي، څنګه یې خپل وطن وران کړی، څنګه یې د خپلو هیواد والو وینې تویې کړي او تویوي یې.
په طبعي ډول کله چې د رنګونو یو ماهر یا هنرمن د رنګونو جنګ جوړوي، یعني رنګونه سره مِکس یا یو ځای کوي؛ رنګارنګي او ښکلاوې زیږوي او هنري آثار ور نه رامنځ ته کیږي؛ خو د سیاست او جګړې په نړۍ کې خبره بل ډول ده. د افغانستان د سیاست او جګړې پر ستیژ باندې موضوع سرچپه روانه ده. پر دې ستیژ باندې د رنګونو له جنګ نه هنري آثار نه، بلکې بدمرغۍ او بربادۍ رامنځ ته کیږي او ښاغلی نصرت د رنګونو د همدې جنګ په تل کې قلم ښوروي او د همدې جنګ انځورونه د شعر په ژبه خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي.
«د رنګونو جنګ» ټولګه که په دقت ولوستل شي، لیدل کیږي چې په ریښتیا سره، بیلابیل افکار، په رنګارنګ نومونو سره په جنګ دي او دا جنګ اوس هم روان دی. شاعر د ټولنې د عینې پیښو د یو عکاس په ډول په ماهرانه توګه د خپلو شعرونو لومړنۍ ټولګې ته «د رنګونو جنګ» نوم غوره کړی دی.
شاعر خپل همداسې یو فکر د تورو په دې چوکاټ کې په هنرمندانه ډول انځور کړی دی. وګورئ:

سور د سپین سره په جنګ شو
شین د سپین سره همرنګ شو

سور یې مات او را نسکور کړ
چې شین خط سالار د جنګ شو

وحشت کـــرو پـه دنیا کې
شین وحشي او زوړ پلنګ شو

یا دا دوه بیتونه:

په کوم رسم چې مات شوی و دا سُور
هغه رسم یې د خپلې غاړې زنګ شو

دا د دین په نوم جهاد تش یو نیرنګ دی
ټولی ګټې دي جهان په وینو رنګ شو

(نصرت زلمی، د رنوګونو جنګ، د شعرونو ټولګه، ۱۳۹۶ ام کال، ۶۳ مخ)

د زلمي نصرت د شعرونو دې ټولګې «د رنګونو جنګ» ته کېدای شي د ده د فکر هغه هنداره و وایو چې ده د مهاجرت په ژوند کې د خپلې ټولنې نه ټولې منفي او مثبتې تجربې او خاطرې، د دې ټولنې له ستونزو او حالاتو سره یو ځای کړې او پایله یې د شعر په ژبه د یو درد په ډول انځور کړې ده.
د نصرت په دې ټولګه کې د ده د ژوند د نا کامیو، دردونو، مینې، ستونزو او... یو غږ اوچت شوی دی.

که د ښاغلي زلمی نصرت دا نوې شعري ټولګه«د رنګونو جنګ» د وزن پوهنې په تله کې وتلل شي، کېدای شي کموزنه وخیزي، دغه راز که د ادبي نقد د تیزبینو عینکو له کړکۍ نه ور وکتل شي، نواقص به په کې وي؛ خو د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«چيرې چې کار شته، هلته اشتباه هم شته» د پرنسيپ له مخې به يې خامخا په دې نويو تجربو کې اشتباه وي، څکه تيروتنه له کار سره مل وي؛ د همدې دليل له مخې زه د ښاغلي نصرت دا شعري ټولګه (د رنګونو جنګ) څکه تر ډيرې اندازې ښه ارزيابي کوم چې، دا د شعر په ډګر کې د شاعر لومړني ګامونه او لومړنی تجربې دي، د دې له پاره چې په راتلونکې کې شاعر خپلو تيروتنو ته په پام سره، خپل نوې تخليقات له تيروتنو پاک او لا غني کړي، له نورو شاعرو دوستانو او فرهنګيانو سره ښايي چې خپلې دوستانه مشورې او عالمانه لارښوونې ورڅخه و نه سپموي.

دا يې د ټولنيز او سياسي انتقاد يو ښو بيتونه:

«ايماندار چې بې ايمان پسې روان وي
استادان چې شاګردان پسې روان وي

عالمان چې د جاهلو سامعان وي
قاتلان چې د ملکونو اتلان وي

فاسدان چې د ښارونو واکداران وي
عام الناس به د فاسدو اسيران وي...»

(نصرت زلمی، د رنګونو جنګ، د شعرونو ټولګه، ۱۳۹۶ ام کال، ۱۱۸مخ)

دا هم د ښاغلي نصرت د کلام يوه بله بيلګه:

سر په سر غمونه

**غمونه چې راځی تل سر په سر راځي**
**يو يې په اوږدو او بل په بر راځي**

**تبر ته چې ګورئ لاستی زموږ ښکاری**
**ګل هم که راځي لکه تبر راځي**

**کله وي د شرق کله د غرب له خوا**
**مرګ لکه څپه د سمندر راځی**

**تندر دی له هسکه تول پر موږ راځي**
**هر څه چې راځی سم لکه غر راځی**

**جوړ چې سره نه شو، موږ په خپلو کې**
**تول عمر نصرت باندې خطر راځي**

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ